**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د شرعي حجاب اړوند**

**د توضیحي او تطبیقي طرحې**

**د منظورۍ په هکله**

**د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله**

**حکم**

**ګڼه: (۱۹۳۰)**

**نېټه: ۲۴/ ۹/ ۱۴۴۳ هـ.ق**

**د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو د اورېدلو وزارت ته!**

**السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!**

**صحت او عافیت مو الله جل جلا له په نصیب کړه!**

و بعد: د شرعي حجاب اړوند لنډه توضیحي او تطبیقي طرحه چې د شیوخو کرامو له خوا جوړه شوې ده، زموږ له خوا منظوره ده. د امربالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو د اورېدلو وزارت له خوا دې تطبیق شي، په تطبیق کې دې ستره محکمه، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د پوهنې وزارت، د کورنیو چارو وزارت،

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**حکم**

**عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله**

**در مورد منظوری طرح توضیحی**

**و تطبیقی مربوط به**

**حجاب شرعی**

**شماره: (۱۹۳۰)**

**تاریخ: ۲۴/ ۹/ ۱۴۴۳ هـ.ق**

**به وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات!**

**السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!**

**الله جل جلا له صحت و عافیت را نصیب شما گرداند!**

و بعد: طرح توضیحی و تطبیقی مختصر مربوط به حجاب شرعی که از طرف شیوخ کرام تهیه گردیده است، از طرف ما منظور است. توسط وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات تطبیق گردد. در تطبیق آن ستره محکمه، وزارت ارشاد، حج و اوقاف، وزارت معارف، وزارت امور داخله،

د استخباراتو لــوی ریاســـت او ټــول خطیبان او واعظان دې پوره همکـــاري ورسره وکړي.

**والسلام**

**اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

ریاست عمومی اســـتخبارات و تمـــام خطباء و واعظـــان بـــا آن همکـــاری همه جانبه نمایند.

**والسلام**

**اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث**

**مولوی هبة الله اخندزاده**

بسم الله الرحمن الرحيم

## د شرعي حجاب اړوند لنډه توضيحي او تطبيقي طرحه

سره له دې چې زیاته موده د هېواد په کچه د ښځو د بې حجابه کولو په موخه په پرلپسې او منظم ډول پروګرامونه په کار اچول شوي وو، بیا هم له نېکه مرغه په سلو کې تقریبا (۹۹)نهه نوي فیصده د جهاد پروره ملت غربت منډي مېرمني حجاب د شرعي اص"ل او افغاني پتمن دود په توګه رعایت کوي، پاتې نورې دې هم چون هېڅ عذر او موانع وجود نه لري، دغه شرعي واجب حکم مراعات کړي.

**د حجاب حکم:**

- د مسلمانو اصیلو، بالغو ښځو لپاره شرعي حجاب رعایت کول فرض او ضروري دي.

**د حجاب تعریف:**

- بدن چې په هره جامه پټ کړل شي حجاب ګڼل کېږي، خو چې باریکه نه وي چې بدن ترې ښکاري او دومره تنګه نه وي چې د بدن د غړو نمایندګي کوي.

**د حجاب ډولونه:**

- چادري چې په هېواد کې له پېړیو را په دېخوا د افغاني باعزته کلتور برخه ده، د شرعي حجاب بهترین ډول دی.
- د حجاب په نوم مروجه تور رنګه جامه او څادر هم شرعي حجاب دی، چې تنګ او چسپ نه وي.
- له کور څخه بې موجبه نه وتل د شرعي حجاب د رعایت لومړی او بهترینه بڼه ده.

**د حجاب د رعایت موارد:**

- هغه ښځینه چې د عمر په لحاظ زړې یا وړې نه وي له نامحرمو نارینه وو سره د مخامخ کېدو په مهال به د فتنې له امله د شرعي هدایاتو مطابق له سترګو پرته خپل مخ ضرور پټوي.

**د حجاب د رعایت کولو ګټې:**

- شرعي حجاب د الله تعالی امر او رعایت کول یې د هغه د امر اطاعت دی.
- حجاب د مسلمانو او اصیلو ښځو امتیاز دی.
- باپرده مېرمنې له نافرمانۍ او ګناه څخه په امن وي.
- له عزت او وقار څخه برخمنې وي.
- د مفسدینو له شر او فساد څخه خوندي وي.

- د فتنه اچوونکو اشخاصو او کړیو د دسیسو په آسانه نه ښکار کېږي.

**د حجاب د تطبیق طریقه او مراحل:**

(۱): **ترغیب**:

- د رسنیو او منبرونو له لارې د حجاب حکم، اهمیت او ګټې او د بې حجابۍ زیانونه بیانول.
- په بازارونو، پارکونو، او عمومي مواردو کې د حجاب په هکله د ترغیبي جملو لیکل او اړونده ستېکرونه لګول.

(۲): **تنبیه او ترهیب**:

- د بې حجابه مېرمنې دې په لومړي ځل کور معلوم کړل شي د هغې ولي ته دې توصیه وشي او تنبیه دې کړل شي .
- په دویم ځل دې ولي اړونده ریاست ته احضار کړل شي.
- په دریم ځل دې یې ولي درې ورځې حبس کړل شي.
- په څلورم ځل دې یې ولي محاکمو ته وسپارل شي تر څو په مناسبه سزا محکوم کړل شي.
- هغه مېرمنې چې د امارت اړونده ارګانونو کې فعالیت کوي او حجاب نه رعایت کوي، له دندې دې ګوښه کړل شي.
- د هغو حکومتي مامورینو او منسوبینو چې مېرمنې او لوڼې یې حجاب نه رعایت کوي دندې به یې تعلیق کېږي.